# د افغانستــان اقتصـادي پـرمختګ

## خبرپاڼه

دریيم کال - ۲۳مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۵مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۷/۱



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېـږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتيو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

په شمالي ولايتونو کې د ۳۳٦۷۹ جريبه ځمکې پر مساحت د درې صنعتي پارکونو چارې پيل شوې

# په شمالي ولايتونو کې د ۳۳۶۷۹ جريبه ځمکې پر مساحت د درېيو صنعتي پارکونو چارې پيل شوې






د هېواد په شمالي ولايتونو کندز، بغلان او بلخ کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادراخوند له لوري د درېيو لويو صنعتي پارکونو د جوړېدو چارې پيل شوې، چې تولیز مساحت يې ۳۳۶۷۹ جريبو ته رسېږي. د دغو صنعتي ساحو جوړېدل د کورنيو توليدي ظرفيتونو د پراختيا، د خامو موادو د پروسس، د پانګونې د فرصتونو د رامنځته کولو، د وارداتو د بديل توليد او د صادراتو د پراخېدو لپاره مهم اقتصادي ظرفيت رامنځته کوي. په کندز ولايت کې د «عبدالرحمن بن سُمره رح» صنعتي پارک لس زره جريبه مساحت لري. په دې صنعتي پارک کې به د نساجۍ، درملو، خوراکي توکو، ساختماني موادو، اوسپنې او فولادو او نورو توليدي برخو کې د پانګونې زمينه برابره شي. همداراز، د صنعتي فعاليتونو د ملاتړ لپاره په دې صنعتي پارک کې اداري او سوداګريزې ساحې، بانک، روغتون، ښوونځی، مدرسه، جومات او نور اړين خدمات په پام کې نيول شوي دي. په بغلان ولايت کې د «قتيبه ابن سعيد بغلاني رح» صنعتي پارک ۱۶۷۹ جريبه مساحت لري. د دغه پارک له جوړېدو سره به صنعتکارانو ته د توليدي فعاليتونو لپاره منظمې ساحې برابرې شي او د کورنيو خامو موادو د پروسس او توليد د پراختيا زمينه به رامنځته شي. د دې صنعتي پارک د فعاليتونو له پراختيا سره به زرګونو هېوادوالو ته د کار زمينه هم برابره شي. په بلخ ولايت کې بيا د «امام شقيق بلخي رح» صنعتي ښارګوټي ۲۲ زره جريبه مساحت لري. دغه صنعتي ښارګوټی به د خامو موادو د پروسس، معياري محصولاتو د توليد او صادراتو لپاره زمينه برابره کړي. د حيرتان دوه لارې ته نږدې موقعيت لرل يې د سوداګرۍ او ترانزيټ له پلوه هم اقتصادي اهميت لري، ځکه حيرتان د افغانستان د سوداګرۍ له مهمو مسيرونو څخه دی او د توليدي محصولاتو د صادراتو لپاره د ترانزيټي اسانتياوو له رامنځته کېدو سره مرسته کولای شي. د دغو صنعتي پارکونو د جوړېدو اساسي اقتصادي اهميت په دې کې دی چې د هېواد د بېلابېلو برخو خامو موادو ته د پروسس زمينه برابروي. د هېواد د کرنې، مالدارۍ، کانونو او نورو اقتصادي برخو له لارې ډېر خام مواد توليدېږي، خو د پروسس او توليدي زيربناوو کمښت ستونزې راولاړوي. د صنعتي پارکونو پراختيا کولای شي د خامو موادو پروسس، توليد او بازار ترمنځ اړيکې پياوړې کړي. د توليدي ظرفيتونو پياوړتيا به د کورني بازار د اړتيا وړ توکو د توليد په زياتېدو او د وارداتي محصولاتو د اړتيا په کمېدو کې هم ونډه ولري. له بلې خوا، د معياري توليداتو رامنځته کېدل د دې زمينه برابروي چې کورني محصولات د افغانستان له بازار څخه د سيمې او نړۍ بازارونو ته ووځي او د صادراتو له لارې د هېواد اقتصادي فعاليتونه پراخ شي. د درېيو صنعتي پارکونو د جوړېدو بله مهمه پايله د خصوصي پانګونې او صنعتکارانو لپاره د منظم فعاليت لپاره د چاپېريال رامنځته کول دي. د صنعتي پارکونو ترڅنګ د اړينو خدماتو او زيربناوو برابرول پانګوالو ته د اوږدمهاله فعاليت لپاره مناسب چاپېريال برابروي. په تولیز ډول، په کندز، بغلان او بلخ کې د دغو درېيو صنعتي پارکونو او ښارګوټو د جوړېدو چارې، چې ۳۳۶۷۹ جريبه ځمکه تر پوښښ لاندې راولي، د هېواد د صنعتي زيربناوو د پراختيا يوه مهمه برخه جوړوي. د دغو پروژو بشپړېدل او د پانګوالو او صنعتکارانو له لوري د توليدي فعاليتونو پيل به د کورني توليد د زياتېدو، د خامو موادو د ارزښت لوړېدو، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو، د وارداتو د بديل توليد او د صادراتو د پراختيا لپاره زمينه برابره کړي.